SMITTSKYDDSBLAD

Patientinformation

MRSA

Översättning till pashto

Version 2023-04-18

# MRSA د ناروغ لپاره معلومات

## ماته دا معلومات ولې راکړل کیږي؟

معایناتو ښودلې چې تاسې د انټي بیوتیک سره مقاوم باکتریا لرئ، چې هغې ته MRSA وویل کیږي. په دې معلوماتي پاڼه کې به تاسې په دې پوه شئ چې دا څه مانا لري او دا چې تاسې باید په دې حال کې څه ته متوجه ووسئ ترڅو نور په دې ناروغی ککړ نکړئ.

## MRSA څه شی دی؟

MRSA د استافیلوکوکوس اورائوس مقاوم چې متي سیلین دی، د هغې مخفف دی. او د استافیلوکوک باکتریا یو ډول دی. چې له ځانګړو انټي بیوټیکو سره مقاوم شوی.

MRSA کولی شي چې د پوټکي په سره په مخاطي غشاوو کې پرته له دې چې تاسې نغروغه شئ، موجود وي، چې هغې ته ناقل وویل کیږي. لکه عادي استافیلوکوک، MRSA کولی شي چې کله د عفونت لامل شي لکه د عفونت په زخم بدل شي.

MRSA د استافیلوکوک په پرتله جدي یا ډېر عفونت نه ایجادوي. خو ددې عفونت د تداوی پرمهال باید له خاصو انټی بیوټیکو څخه کار واخیستل شي.

## MRSA څه ډول انتقالیږي؟

MRSA عموماً د پوټکي د اړیکي د ښلکي په توګه د لاس له لامله په وګړو کې خپریږي. دا باکتریا ممکن په چاپیریال کې موجودو شیانو باندې ونښلي لکه د ورزش آلات او بیا له هغه ځایه نورو ته انتقال شي.

هغه وګړي چې په MRSA اخته وي ډېر کله نور ککړولی شي. د باکتریا مقدار په یو خاص چاپیریال کې خپریږي او په دهغه حالت کې د عفونت د انتشار خطرات هم زیاتیږي. نو دې ته د عفونت د خپریدو د خطر عوامل وویل کیږي.

د عفونت د خپرېدو د خطر عوامل دا کیدای شي:

- جلدي عفونت، لکه د عفونی زخمونه، کورک یا زېږ زخم (د خنځیر دانه)
- خلاص زخمونه
- د اګزما بدیدل یا د غوړ له لارې د اګزما ترشحات خارجېدل
- د پوستکي ځیني اوږدمهاله ناروغی
- کیتیتر یا ستوما.

## ایا تاسو کولی شئ له MRSA څخه ځان وژغورئ؟

MRSA معمولا په خپله له منځه ځي. ددې ورکېدل ممکن ډېر وخت ونیسي، یعني له میاشتو څخه تر کلونو پورې نیولی شي. تاسو باید په مکرره توګه خپل معاینات وکړئ تر څو مو ناروغي ورکه شوي نه وي. دا د MRSA لپاره مسؤل ډاکټر وي چې ددې پرېکړه کوي چې لاندې تشریح شوي قواعد نور باید عملي نشي. کله چې MRSA هر درې درې میاشتي بعد په دوو متواترو معایناتو کې مثبت ښکاره نشي نو کولی شئ چې تحقیقات پای ته ورسیږي.

## زه باید څه ته فکر ونیسم ترڅو نور په دې ناروغۍ اخته نکړم؟

ترټولو اړین کار دا دی چې باید د خپلو لاسونو نظافت مراعت کړئ. که چېرې کوم مهم فکتور نلرئ نو کولی شئ چې په عادي توګه ژوند وکړئ او په دې حالت کې د عفونت د انتشار خطر کم وي.

ماشومان کولی شي چې د وړکتون یا ښوونځي په ټولو فعالیتونو کې ونډه واخلي. دا اړینه نه ده چې د ماشوم سرپرستان د وړکتون یا ښوونځي اداري ته دا خبر وکړي چې ماشوم د MRSA ناقل دی. د وړکتون ماشومان ممکن کله نا کله په کور کې پاتې شي. په دې اړه قوانین لاندې ملاحظه کړئ.

که چیرې وظیفه مو له خناورو پالل وي نو کولی شئ چې په دې هکله ځانګړې مشوره وکړئ. نو ستاسې ډاکټر کولی شي چې له عفونت د کنټرول کوم ډاکټر سره مشوره وکړي.

**د چلند قوانین**

د عفونت د کنټرول پراساس MRSA په مکمله توګه یوه خطرناکه ناروغي ده. نو ځکه هغه خاص قوانین چې ډاکټر یې تاسې ته درکوي، یعنې د چلند قوانین، هغه باید مراعت شي.

- که چیرې په تاسې کې د عفونت د خپرېدو عوامل موجود وي، نو باید د پاملرنې خاص توضیحات چې لاندې واضح شوي باید مراعت شي:
- که چیرې د پوټکي مداوم عفونت، خلاص زخمونه یا هغه ډول اګزما لرئ چې ترشحات لري نو داسې خلک باید په هغه ډول بدني ورزش کې چې وجودي تماس پکې موجود وي، برخه وانخلي یا د مشترکو ورزشي کوټو یا ورزشي سالونونو څخه ګټه وانخلئ.
- هغه ماشومان چې وړکتون ته ځي او عفوني زخمونه، زېږ زخم (د خنځير دانه) یا له هغې بدتر شکل لري نو داسې ماشومان باید په کور کې پاتې شي.
- که چیرې د پوټکي دوامداره عفونت، خلاص زخمونه یا داسې اګزما چې ترشحات ولري نو باید چې د وجود د سوري کولو، خالکوبی، مساج، غیرطبی پاملرنې یا هغه درملنه چې پوټکي یا مخاطي غشا مشابه وي، دغه مهال باید چې ددې معلومات ورکړل شي چې شخص MRSA لرئ.
- د طبي پاملرنې، د غاښونو د پاملرنې او د پښو د طبی پاملرنې پر مهال باید موږ ته وویل شي چې تاسې MRSA لرئ. دا په هغه صورت کې هم باید تطبیق شي کله چې تاسې طبی پاملرنه په کور کې ترلاسه کوئ. که چېر یوائې د اخیستلو، نظافت، د درمل په اړه او یا د پیاده ګرځېدو په اړه مرسته غواړئ نو هغه مهال اړینه نه ده چې هغو ته ووایاست چې تاسې د MRSA ناقل یاست.
- تاسې چې د طبي پاملرنې په بخش کې کار یا تحصیل کوئ نو که چیرې ډاکټر مو دا تصمیم ونیسي چې تاسې د عفونت د خپرېدو لامل یاست نو تاسې باید په داسې طبي پاملرنو کې برخه وانخلئ.
- باید چې له خپل ډاکټر سره په اړیکه کې وسئ او خپل مهم معاینات ورته ښکاره کړئ.

که چیرې تاسې ته د چلند کومه قاعده درکول شوي وي چې ستاسو په فکر غلطه وي نو کولی شئ چې په منطقه کې د کوم عفوني ډاکټر سره په اړیکه کې شئ.

**د خطر د عواملو سره ستاسو لپاره د حفظ الصحي ځانګړې طرزالعملونه**

که چیرې تاسې د خطر عوامل ولرئ نو د عفونت د خپرېدو خطر زیاتیږي. نو باید چې په لاندینو نقاطو فکر وشي:

- خپل لاسونه باید ووینځئ. له خپل شخصي دستپاک او د پاملرنې د لوازمو څخه کار واخلئ
- له نورو سره په یو حوز کې لمبا مه کوئ.
- خپل زخم د یو بند په مرسته پټ کړئ. خو که چیرې له بند څخه د زخم مایعات راښکاره کیږي نو باید چې بند بدل کړئ.
- که تاسو کیتیټر لرئ، نو باید یې چې د خپلو جامو لاندې واغوندئ.
- کله مو چې لاسونه له زخم، پوښاک یا کیتیټر سره په تماس کې شو نو باید چې لاسونه مو ووینځئ.

### د عفونت تعقیبول

عفونت څخه د محافظت قانون له مخې، تاسو باید د عفونت په تعقیب کې برخه واخلئ. دا پدې مانا ده چې د روغتیا پاملرنې متخصصینو ته معلومات چمتو کول ترڅو دوی وکولی شي معلومه کړي چې تاسو کله، چیرته او څنګه په ناروغی اخته شوي یاست او یا دا چې نور مو په ناروغی اخته کړي دي.

تاسې چې هر څه وایې هغه به محرم (راز) وي، او د هغه کسانو په اړه چې تاسې یې معلومات ورکوئ، هغو به نه پوهیږي چې تاسې څوک یاست.

### د عفونت د تعقیبولو د معلوماتي پاڼې په اړه

د عفونت مخنیوي پاڼې د عفونت مخنیوي د طبي اتحادیې لخوا تولید شوي او په ملي کچه پلي کیږي.